شریعت
ورځپاڼه
د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پراو ۱۱۰۱ ګڼه / چهارشنبه د محرم‌الحرام ۲۲مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ۱۷مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جولای ۸مه ۲۰۲۶ میلادي

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه‌الله له لوري د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختیایي پلان منظور شو

د برېښنا انرژۍ پنځه کلن پراختیایي پلان، چې د ریاست‌الوزراء د اقتصادي مرستیال ملا عبدالغني برادر اخوند په مشرۍ د اقتصادي کمیسیون له لوري تأیید شوی و، د عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه‌الله تعالی» له لوري منظور شو. په دې پلان کې له کورنیو سرچینو لکه اوبو، لمر، باد او ډبرو سکرو څخه د برېښنا د تولید ۲۵ پروژې، د برېښنا د لېږد مزي غځولو ۱۳ نیمګړې او ۲۳ پلان شوې پروژې، د سب‌سټېشنونو جوړولو... **۳مخ**

د صنعت او کانونو نندارتون د سترو سوداګریزو ټرونونو په لاسلیک کېدو پای ته ورسېد

کابل کې د صنعت او معادنو اوونۍ پنځم ملي او نړیوال نندارتون د یو میلیارد ډالرو په ارزښت د قراردادونو په لاسلیک کولو سره پای ته ورسېد. دغه نندارتون د اوو ورځو لپاره کابل کې پیل شوی و، چې ۳۲۸ کورنیو او بهرنیو شرکتونو په ۴۰۰ غرفو کې خپل صنعتي او تولیدي محصولات نندارې ته ایښي وو. د نندارتون د مسئولینو د معلوماتو له مخې دغه نندارتون کې د یو میلیارد ډالرو په ارزښت ۵۰ سوداګریز قراردادونه لاسلیک شوي، چې د هېواد د صنعت او پانګونې لپاره مهم پرمختک بلل کېږي. چارواکو هم دغه ډول نندارتونونه د کورنیو تولیداتو د ودې، د پانګونې د جلب، د صادراتو د پراختیا او د سوداګریزو اړیکو د پیاوړتیا لپاره مهم بللي دي.

اقتصادي کمیسیون د چاپېریال ساتنې د مرکزي لابراتوار طرحه تأیید کړه

د اقتصادي کمیسیون د تخنیکي کمیټې نوښتي غونډه چې په مرمرینه مانۍ کې جوړه شوې وه، پکې د چاپېریال ساتنې عمومي ادارې د لابراتواري خدمتونو د مدیریت طرحه د بحث لپاره وړاندې شوه، چې له بحث او هراړخیزې ارزونې وروسته د تأیید وړ وبلل شوه.

د دې طرحې موخه د هوا، خاورې، اوبو او د غږ د کیفیت د معاینې لپاره د یو مرکزي، مجهز او معیاري لابراتوار فعالول دي، چې له خدماتو به یې نه یوازې امارتي اداري، بلکې خصوصي سکتور او نړیوال سازمانونه او پوهنتونونه هم ګټه اخیستلی شي. همدا راز په دې غونډه کې د معیار او کیفیت اداري پر یو شمېر داخلي معیارونو او بهر ته د افغاني غالیو د صادراتو د زیاتوالي پر موضوعاتو هم بحث وشو.

سرمایه‌گذاران ایرانی خواهان همکاری در بخش معادن و صنعت هرات شدند

هیئت کنسرسیوم شرکت‌های آزمون فلز پارس و اکسیر تلاش نصر جمهوری اسلامی ایران به هدف بررسی زمینه‌های همکاری در بخش‌های اکتشاف، استخراج و بهره‌برداری از معادن و مواد معدنی، ایجاد کارخانه‌های صنعتی و ارائه ماشین‌آلات مورد نیاز، به ولایت هرات سفر کرده و با والی... **ص۳**

د پوهنې وزارت:

په ۳۹ ښوونځیو کې د رشته‌بندۍ د ازمایښتي طرحې پر تطبیق کار روان دی

شریعت: د پوهنې وزارت مسئولینو شریعت ورځپاڼې ته ویلي: د ثانوي ښوونځیو د رشته‌بندۍ طرحه لا هم د آزمایښتي پراو په مرحله کې ده، چې د دې پروسې په بشپړېدو سره به دغه طرحه د هېواد په ټولو ښوونځیو کې عملي شي. د دوی په وینا، دغه طرحه یې د مرکز او ټولو ولایتونو په ګډون ۳۹ ښوونځیو کې په... **۳مخ**

کندز کې د ختکیو او هندوانو حاصلات له ۶۰ زره مټریک ټنه اوښتي

د کندز د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ ریاست مسئولینو ویلي، چې سږ کال د دې ولایت په مرکز او ولسوالیو کې پر شاوخوا ۶ زره هکتاره ځمکه هندوانې او ختکې کرل شوي دي. د یاد ولایت د کرنې، اوبو لګولو او مالدارۍ آمر

صلاح الدین واحدي ویلي، چې تاکل شوې سږ کال له یادې ځمکې څخه څه باندې ۶۰ زره مټریک ټنه حاصلات راټول کړي. ده زیاته کړې، چې د بازار موندنې... **۳مخ**

سر مقاله

د صنعت وده؛ د اقتصادي ځان‌بسیاینې پر لور عملي ګام!

د یوه هېواد اقتصادي ځواک هغه مهال پر خپلو پښو درېدلی شي، چې د وارداتي مصرف پر ځای یې د تولید بنسټونه پیاوړي شي او کورنۍ صنعت یې د ملي اقتصاد اصلي محرک وي. په همدې اساس، د افغانستان اسلامي امارت په وروستیو کلونو کې د صنعت، پانګونې او کورنۍ تولید د ودې لپاره عملي او دوامدار اقدامات کړي، چې پایلې یې ورځ تر بلې مورِ او تاسي په خپلو سترګو وینو.

په کابل کې د صنعت او معادنو اوونۍ پنځم ملي او نړیوال نندارتون، چې د یو میلیارد ډالرو په ارزښت د پنځوسو سوداګریزو ټرونونو په لاسلیک کېدو پای ته ورسېد، د هېواد د صنعتي ودې او اقتصادي خوځښت یوه روښانه بېلګه ده. دغه نندارتون د افغانستان د تولیدي ظرفیت، د پانګونې د فرصتونو او د کورنۍ صنعت د پرمختک یو عملي انځور و، چې د سلګونو کورنیو او بهرنیو شرکتونو ګډون پکې د افغانستان پر اقتصادي راتلونکي د باور څرګندونه کوي.

د سلګونو شرکتونو حضور، د بېلابېلو تولیدي محصولاتو نندارې ته وړاندې کول او د یو میلیارد ډالرو په ارزښت د سوداګریزو قراردادونو لاسلیک کېدل له ځان سره دا پیغام لري، چې افغانستان د سوداګرۍ او پانګونې لپاره د باور وړ چاپېریال پر لور روان دی. دا ډول اقتصادي فعالیتونه، نه یوازې دا چې پانګه جذبوي، بلکې د تولید، کارموندنې، صادراتو او ملي عوایدو د زیاتوالي لپاره هم نوې لارې پرانیزي.

د اسلامي امارت اقتصادي تګلاره پر دې ولاړه ده چې هېواد له وارداتو پر متکي اقتصاد څخه تولیدمحوره اقتصاد ته ولېږدوي. په همدې موخه د کورنیو تولیداتو ملاتړ، د صنعتي پارکونو پراختیا، د پانګوالو لپاره د اسانتیاوو برابرول او د کورنیو تولیداتو د بازارموندنې هڅې هغه ګامونه دي، چې د افغانستان د اقتصادي ځان‌بسیاینې بنسټونه لا پیاوړي کوي. دا چې په تېرو ځلورو کلونو کې زرګونو شرکتونو ته د فعالیت جوازونه ورکړل شوي، زرګونه ډولـه تولیدات په هېواد کې جوړېږي او سلګونه قلمه توکي د ځان‌بسیاینې مرحلې ته رسېدلي، دا د دې څرګند ثبوت دی، چې د افغانستان صنعتي سکتور د ودې په حال کې دی او د هېواد د ارتیاوو د پوره کولو ترڅنګ د صادراتو د پراختیا ظرفیت هم پیدا کوي.

په نړیوالو بازارونو کې د افغاني تولیداتو د معرفي کولو هڅې، د نورو... **۳مخ**

بغلان کې د اوبو شېړ کوچني بندونه جوړېږي

د بغلان ولایت د پېښو پر وړاندې د مبارزې او چمتووالي ریاست مسئولینو ویلي، چې د پلخمري ښار په مرکز کې د څه باندې یو میلیون افغانیو په لګښت د شېړو چکډېمونو د جوړولو چارې پیل شوې. د یاد ولایت د پېښو پر وړاندې د مبارزې او چمتووالي رئیس مولوي هدایت الله همدرد ویلي، چې دغه پروژه د اغاخان بنسټ په مالي ملاتړ د یو میلیون او ۵۰۰ زره افغانیو په لګښت د پلخمري ښار د لومړۍ ناحیې د چپ دریا په سیمه کې پلي کېږي. د نومورې په وینا، د دغې پروژې په بشپړېدو سره به ۲۵۰۰ کورنۍ، کرنیزې ځمکې، استوګنیز کورونه، سړکونه او نور عامه تاسیسات د سېلابونو له خطر څخه وژغورل شي.

چهارراهی استقلال بدخشان با حمایت مالی یک تجار ساخته شد

چهارراهی استقلال در شهر فیض‌آباد، مرکز ولایت بدخشان، با حمایت مالی یک تن از تجاران و با هزینه دو میلیون افغانی ساخته و به بهره‌برداری سپرده شد. مولوی محمد اسماعیل غزنوی والی بدخشان، در مراسم افتتاح این پروژه ضمن قدردانی از همکاری... **ص۳**

توزیع زرنج و تجهیزات کسب درآمد برای ۲۲ خانواده نیازمند در کنر

ریاست امور شهداء و معلولین کنر با همکاری مالی بنیاد خیریه نصیر، برای ۲۲ خانواده نیازمند، به‌منظور تقویت خودکفایی اقتصادی و بهبود وضعیت معیشتی آنان، وسایل درآمدزاء توزیع کرد. دفترمطبوعاتی وزارت امور شهداء و معلولین با نشر خبرنامه‌یی گفته‌است که در این برنامه برای ۱۱ خانواده یتیم،... **ص۳**

نور تخصصي روغتون په تېرو درېیو میاشتو کې د سترګو ۲۳۴۵ عملیاتونه ترسره کړي

شریعت: د نور د سترګو ملي او تخصصي روغتون مسئولینو شریعت ورځپاڼې ته ویلي، چې دغه روغتون ته هره ورځ د هېواد له بېلابېلو ولایتونو څخه کې شمېر ناروغان د درملنې لپاره مراجعه کوي. د دوی په وینا، په تېرو درېیو میاشتو کې ټولټال ۲۳۴۵ عملیاتونه ترسره شوي، چې له دلې یې ۲۰۱۴ لوی او ۳۳۱ کوچني عملیاتونه د متخصصو ډاکټرانو له خوا په بریالیتوب ترسره شوي دي. د نور د سترګو ملي او تخصصي روغتون سرطبیب، ډاکټر تلاوت شاه روان، شریعت ورځپاڼې ته وویل: «په تېرو درېیو میاشتو کې د (او، پي، دي) برخې ته ۳۵ زره او ۷۲۹ ناروغانو مراجعه کړې او درملنه یې شوې ده، چې په همدې موده کې ۲۱۶۹ ناروغان هم بستر شوي دي.» د ده په وینا: «هره ورځ له ۵۵۰ څخه تر ۶۰۰ پورې ناروغان د درملنې لپاره دې روغتون ته مراجعه کوي او له ۴۵ څخه تر ۵۰ پورې لوی او کوچني عملیاتونه د متخصصو ډاکټرانو له خوا ترسره کېږي.» ښاغلي روان وویل: «په روغتون کې د شبکیې،... **۲مخ**

هرات کې د هنري اثارو نندارتون پرانیستل شو

د اطلاعاتو او فرهنګ وزارت د هنرستان ریاست له لوري د هرات د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست په همکاری په دغه ولایت کې د «هنري او فرهنګي سیالۍ» تر سرلیک لاندې د سلو هنري اثارو نندارتون جوړ او سیالۍ ترسره شوې. د هرات د اطلاعاتو او فرهنګ ریاست د فرهنګ او هنر آمر مولوي عبدالمتین عادل ویلي، چې دغه نندارتون د هنرمندانو ترمنځ د ترسره شویو هنري سیالیو د ارزونې... **۳مخ**

سیاست داحساساتو لوبه نه ده

ارسلا «حسان»

حکومتونه په سیاست چلېږي، کـه څه هـم د حکومـت د چلولـو پانګـه لـه نـورو ارخونـو کمـزورې وي، خـو د سیاسـت قـوي لوبـول د نـورو ټولـو ارخونـو لکـه: اقتصـاد، نظامـي قـوت، ټولنیـز خوځښـتونه، فرهنـګ، د ټولنـې د وکـړو علمـي کچـه، د ګاونډیتـوب تعامـل او نـور ټـول هغـه څـه چـې د یـو حکومـت پـه ادانـه کـې ضـرور وي؛ همـدا سیاسـت د هغـو ټولـو دروازو کیلـي ده، چـې دې ټولـو فرصتونـو، همکاریـو او پرمختـګ تـه لاره پرانیـزي.

افغانسـتان د همـدې حالـت د کنټـرول لـه ټولـو مهـم پـراو کـې واقـع دی، د هېوادونـو سیاسـي اړیکـې، سیاسـي دریځونـه، د سـیمې او ګاونډیـو نیتونـه، متقابـل دریځونـه، سـیمه‌ییز او نړیـوال بدلونونـه، اقتصـادي دهلېزونـه او امنیتـي معادلـې هـره ورځ نـوې بڼـه خپلـوي؛ پـه داسـې وضعیـت کـې احساسـاتي پرېکـړې نـه، بلکـې د خپلـو ګټـو پـر بنسټ سـنجول شـوي او هوښـیارې سیاسـي تـګلارې د بریـا تضمیـن کـوي.

پـه نړیـوال سیاسـت کـې تلپاتـې دوسـت او دښـمن نـه وي؛ تلپاتـې یـوازې د هېوادونـو خپلـې ګټـې وي. هغـه حکومتونـه بریالـي دي چـې د خپلـو ګټـو د خونـدي کولـو لپـاره لـه فرصتونـو سـمه اسـتفاده وکـړي، لـه بېځایـه تقابـل څخـه ځـان وسـاتي او لـه هـرې ممکنـې سیاسـي لارې د خپـل هېـواد دریـځ پیـاوړی کـړي.

نـن افغانسـتان ارتیـا لـري چـې د متـوازن سیاسـت، فعالـې ډیپلوماسـۍ، اقتصـادي همکاریـو او د متقابـل احتـرام پـر بنسټ لـه نـړۍ او سـیمې سـره خپلـې اړیکـې لا پراخـې کـړي. هـره سیاسـي بریـا کولـی شـي د اقتصـادي ودې، پانګونـې، امنیتـي ثبـات او نړیـوال اعتبـار لپـاره نـوې لارې پرانیـزي.

لـه همـدې املـه، سیاسـت د احساسـاتو ډکـر نـه، بلکـې د تدبیـر، زغـم، محاسـبې او عامـه ګټـو د سـاتنې هنـر دی؛ هغـه ملتونـه چـې پـه دې حقیقـت پـوه شـوي، د سـختو سـتونزو لـه منځـه یـې هـم د پرمختـګ او عـزت لارې موندلـې دي.

د نننـۍ نـړۍ سـیالي د جګـړو تـر څنګ د اقتصـاد، ټکنالـوژۍ، سـوداګرۍ او ډیپلوماسـۍ پـه ډګرونـو کـې روانـه ده، هغـه هېوادونـه چـې پخـوا یـې خپـل ځـواک یـوازې پـه وسـلو کـې لیـده، نـن د پانګونـې، علـم، تولیـد او سـیمه‌ییزو همکاریـو لـه لارې خپـل نفـوذ پراخـوي. افغانسـتان هـم بایـد د همـدې واقعیـت لـه مخـې خپـل لومړیتوبونـه وټاکـي او د سیاسـي تعامـل، اقتصـادي همـکارۍ او متقابلـو ګټـو پـر بنسټ خپـل دریـځ پیـاوړی کـړي.

لـه ګاونډیـو او د سـیمې لـه هېوادونـو سـره د بـاور جـوړول، د ټرانزیټـي او سـوداګریزو لارو پراخـول، د پانګونـې لپـاره د مناسـب چاپېریـال رامنځتـه کـول او د عامـه ګټـو پـر محـور متوازنـې اړیکـې پالـل، هغـه ګامونـه دي چـې کولـی شـي افغانسـتان لـه اقتصـادي فشـارونو وباسـي او د ځـان بسـیاینې پـر لـور یـې رهبـري کـړي.

پـه سیاسـت کـې کلـه ناکلـه چوپتیـا هـم یـو پیغـام وي او کلـه بیـا یـوه لنـډه خبـره لـه اوږدو ویناوو زیاتـې اغیـزې لـري. همـدا راز، هـر غبرګـون بایـد د احساسـاتو پـر ځـای د دقیقـې محاسـبې محصـول وي. هغـه سیاسـتوال چـې هـره پرېکـړه د احساسـاتو پـر بنسټ کـوي، ډېـر ژر لـه داسـې سـتونزو سـره مـخ کېـږي چـې د حـل لاره یـې سـتونزمنه وي؛ خـو هغـه مشـران چـې د حالاتـو ارزونـه، د فرصتونـو پېژندنـه او د راتلونکـو پایلـو اټـکل کـوي، د خپلـو ملتونـو لپـاره دوامـداري بریـاوې ترلاسـه کـوي.

افغانسـتان بایـد د خپلـو دریځونـو د روښـانه کولـو برخـه کـې محتـاط او اوسـي او خپلـې پرېکـړې بایـد لـه سـنجیده ډیپلوماسـۍ سـره وتـړي، ځینـې هېوادونـه خپـل دریځونـه پـه واضـح توګـه وړانـدې کـوي، خـو ځینـې بیـا واضـح دریـځ نـه ځرکنـدوي، چـې دا ډول دریـځ لـه لومـړي دریځـه پېچلـی دی او ورسـره مخکـې تـک بایـد ډېـر محتاطانـه وي.

د تاریـخ تجربـې ښیـي، هغـه ملتونـه چـې د زغـم او تدبیـر لاره یـې خپلـه کـړې، لـه سـختو بحرانونـو وروسـته هـم د پرمختـک لـوړو پوړیـو تـه رسـېدلې دي. افغانسـتان هـم کولـی شـي د همـدې اصـل پـه رڼـا کـې خپـل راتلونکـی پـه داسـې سیاسـت جـوړ کـړي چـې اسـاس یـې د شـرعي اصولـو پـه چـوکاټ کـې عامـه ګټـې، متقابـل احتـرام، سـیمه‌ییزه همـکاري او د هېـواد د خلکـو سـوکالي وي.

همدارنګـه سیاسـت بایـد د احساسـاتو اسـیر نـه شـي، احساسـات د ملتونـو روحیـه پیـاوړې کـوي، خـو د دولتونـو بېړۍ د تدبیـر او محاسـبې پـر سـتنو روانېـړي؛ هـر هغـه ګام چـې د هېـواد عـزت، ثبـات، امنیـت او پرمختـک تـه لاره هـواره کـړي، د بریالـي سیاسـت برخـه ده، او هـره پرېکـړه چـې یـوازې د لنډمهالـو احساسـاتو زېرنـده وي، د اوږدمهالـو زیانونـو لامـل کېـدای شـي.

د کانکور پر څلي!

نسیم ګل سهار

کلـه چـې د کانکـور ازمویـنې څخـه یادونـه کـوو پـه ذهـن کـې مـو ورسـره د ښـوونځي پـه وروسـتیو ټولګیـو کـې د درسـي بهیـر تـر څنـګ د کانکـور امـاده ګیـو او بېلابېلـو کورسـونو تعقیـب، مسـافریو، بـې خوبیـو او بـلا زحمتونـو انځـور پـه ذهـن کـې راوکرځـي.

لـه ډېـرو کلونـو کـورو، چـې ځوانـان د ښـوونځي او همدارنکـه لـه فراغـت وروسـته د کانکـور ازمویـنه کـې د بریالیتـوب او خپلـو انتخابونـو تـه د رسـېدو لپـاره پـه ځـان شـپه او ورځ یـوه کـوي، پـه خپلـو کلیـو، ولسـوالیو او ښـارونو کـې کورسـونو تـه مخـه کـوي، نـورو مرکـزي ولایتونـو تـه ځـي، اتاقونـه کرایـه کـوي، د یخنـۍ او ګرمـۍ سـختي شـپې زغمـي، نهـرې تېـروي، د ژونـد هـره کړنـه، اړیکـې، کار او ژونـد بلـې خواتـه کـوي، تـر څـو پـه کانکـور ازمویـنه کـې د بریالیتـوب زیـری ترلاسـه کـړي.

دومره زیار ایستل ولې؟

دغـه پوښـتنه کـه لـه یـوه پلـوه خـورا سـاده ځـواب لـري، هغـه دا چـې پـه ازمویـنه کـې بریـا ترلاسـه شـي، له بـل پلـوه لـه ازمویني څخـه د وېـرې، پـه هېـواد کـې د کمـزوري تعلیمـي سیسـتم، اقتصـادي سـتونزو، غربـت، محدود تحصیلـي ظرفیـت، د کورنیو هیلـې، رقابـت او نـور بېلابېـل عوامـل پـه ځـان کـې رانغـاړي.

د کانکـور ازمویـنه یـوه داسـې پروسـه ده، چـې د ځوانانـو د دولسـو کلونـو تعلیمـي هڅـې پـه کـې ارزول کېـږي او لـه مخـې یـې ځوانـان پـر تحصیلـي ډکـر ورکېـږي، دغـه ډکـر تـه د ورتګ لارې (کانکـور) لـه پیـل څخـه تـر اوسـني وضعیـت پـورې ډېرې لـوړې ژوړې تـر شـا پرېـږدي، پـر دغـه لاره تلونکـي لارویـان پـه مختلفـو پوړونـو کـې لـه کنـدو کپـرو سـره مـخ شـوي، د هغـوی سـفر یـې ټکنـی کـړی، ځینـې یـې لـه یـوې دنیـا مایوسـۍ سـره پـر دغـه لاره لـه سـفره نیمـه خـوا سـتانه شـوي او یـو شـمېر چـې رسـېدلي هـم دي لـه ځانـه سـره یـې د کړلیچونـو ډېـرې ترخـې خاطـرې لېږدولـې دي.

د کانکـور ازمویـنه پـه خپـل تاریخـي شـالید کـې د زوروا کـی، بیرونـي لاسـوهنو، سـمت پرسـتۍ، بـې نظمـۍ، نـا انډولـۍ او د مسـلکي ظرفیتونـو لـه کمښـته د فریـاد ډېـرې کیسـې پـه ځـان کـې لـري، دغـې پروسـې کـه څـه هـم پـه خپـل تاریخـي سـېر کـې د بدلـون څپـې زغملـې او د وخـت حکومتونـو پـر حمایـت او عصـري ټکنالوژیـو پـر مـټ یـې د اصلاحاتـو لپـاره وخـت پـر وخـت ګامونـه پورتـه شـوي دي؛ خـو لا هـم هڅـه کـوي د سـهولتونو پراختیـا لپـاره پـه ځـان کـې تغییـرات ومنـي.

د کانکـور ازمویـنه، چـې یـو وخـت لـه بهرنـي چاپېریـال تـر اغیـزو لانـدې خـورا زیانمنـه شـوې وه، پـه داخـل د سیسـتم کـې هـم لـه ډېـرو کمزوریـو سـره مـخ وه، چـې لـه املـه یـې د کډونوالـو او هېوادوالـو تـر نیوکـو لانـدې وه.

د کابـل اداري پـه وروسـتیو کلونـو کـې کـه څـه هـم کانکـور ازمویـنه کـې د نـوې ټکنالـوژۍ پـر تطبیـق سـره پروسـې د شـفافیت خواتـه لاړې، د پوښـتنو بانـک غنـي شـو، د هـر کـډون کوونکـي لپـاره د جـلا پوښـتنپاڼې طرحـه عملـي شـوه، د شـمولیت کارتونـو او حاضریـو چـاپ لـه سـاده څخـه رنګـه شـو، د پوښـتنپاڼو او نـورو مـوادو د چـاپ چـارې خونـدي شـوې، د بایومتریـک معلوماتـو ثبـت سیسـتم رامنځتـه شـو، د تلاشـۍ مشـخصو آلاتـو لـه لارې د الکترونیکـي وسـایلو د کارونـې مخـه ونیـول شـوه، خـو سـره لـه دې هـم ځینـې کړنـې داسـې وې، چـې د کانکـور پـه ازمویـنه کـې یـې د کډونوالـو نارضایتـۍ لـه ځـان سـره لرلـې او بایـد ورتـه جـدي پاملرنـه شـوې وای.

دا سـمه ده، چـې افغانسـتان د تېـرو څـو لسـیزو جګـړو لـه املـه د نـړۍ لـه علمـي معیارونـو ډېـر شـاته پاتـې شـوی او هـر بنسټ یـې اوس مهـال پـه هغـه ډول خدمـات نه شـي وړانـدې کولی لکه د نـورې پرمختللـې نـړۍ پـه څېـر، خو کـه د همدغـو بنسـتونو په رأس کـې یـوه قـوي فکـري، علمـي او مسـلکي قـوه قـرار ولـري او د اوسـني عصـر لـه مزایـاو څخـه پـه ګټـې اخیسـتنې د ټولنـې غوښـتنې مخـې تـه کېـږدي، کولـی شـي پـه هـره برخـه کـې نوښـتونه وکـړي او هېوادوالـو تـه لازم سـهولتونه رامنځتـه کـړي.

د کانکـور ازمویـنو لـه ټولـو مهمـه او بنسـټیزه برخـه د پوښـتنو جوړښـت او معیارسـازي ده، لـه ډېـرو کلونـو راهیسـې بـه د ازمویـنو لـه اخیسـتلو وروسـته ډېـرې شـکایتونه دا وو، چـې پوښـتنو کـې ابهـام موجـود دی، لـه یـوې ژبـې څخـه بلـې تـه ژبـاړل شـوي او درک تـرې سـم نـه کېـږي، د پښـتو او دري ژبـو سـاحو ترمنـځ انـډول پـه نظـر کـې نـه دی نیـول شـوی او داسـې نـورې سـتونزې چـې لـه املـه بـه یـې د کډونوالـو ترمنـځ د رقابـت ډکـر هـم سـخت کـړی و او د ازمویـنې معیـار بـه یـې هـم تـر پوښـتنې لانـدې راوسـتی و.

خـو د اسـلامي امـارت پـه بیـا واکمنېـدو او د ازمویـنو عمومـي اداري پـه رأس کـې د شـیخ عبدالباقـي حقانـي پـه راتـګ سـره پـه دغـه اداره کـې تـر بـل هـر څـه د پوښـتنې اصـلاح او معیـاري سـازۍ تـه ځانګـړې پاملرنـه وشـوه، دا چـې شـیخ صاحـب د افغانسـتان علمـي ډکـر، تعلیمـي او تحصیلـي میدانونـو او د افغانسـتان ټولنیـز وضعیـت سـره پـوره بلدتیـا لـري او پـه دې برخـه کـې لـه ځانګـړې تجربـې څخـه برخمـن دی، نـو د کانکـور پروسـه کـې شـته ننګونـو او د کډونوالـو نیوکـو تـه یـې ځانګـړې پاملرنـه وکـړه. د پوښـتنو بانـک اصـلاح تـه یـې د علمي او مسـلکي زاویـې څخـه وکتـل او د معیـاري کولـو لپـاره یـې اقـدام وکـړ.

نومـوړي نـه یـوازې د پوهنـې او لـوړو زده کـړو وزارت ترمنـځ د کانکـور بلکـې د ټولـو مربوطـه ادارو اړونـدو ډلـه ییـزو بـه د ازمویـنو لپـاره د نصابونـو، منابعـو او پوښـتنو پـر معیـاري کولـو جدیـت وښـود، اسـتاذان او متخصصیـن یـې متوجـې کـړل، ترڅـو د پوښـتنو جوړولـو معیـار پـه نظـر کـې ونیسـي.

د پوښـتنو جوړولـو لپـاره ځانګـړی طرزالعمـل جـوړ شـو، چـې لـه مخـې یـې د هـرې اداري لپـاره لکـه لـوړو زده کـړو وزارت اړونـد لیسـانس او فـوق لیسـانس برنامـو، دینـي مدارسـو، اختصاصـي، عامـې روغتیـا وزارت طبـي برخـو، معالجـوي او سـتوماتولوژۍ پوهنځیـو او همدارنکـه طبـي انسـتیټوتونو فارغانـو ایګزیـټ، نظامـي اکاډمیـو، اداري او تخصصـي بسـتونو، دینـي مدارسـو فارغانـو د علمـي سـویو تثبیـت او نـورو لپـاره جـلا د پوښـتنو بانکونـه رامنځتـه شـول، د زړو پوښـتنو ځـای نویـو پوښـتنو ونیـو، د ژبـاړې تصـور لـه منځـه لاړ، پـر پښـتو او دري سـربېره دوه نړیوالـې ژبې(انګلیسـي او عربـي) د کانکـور برخـه وګرځېـدې، پـه پوښـتنو کـې ابهـام ختـم شـو، دقـت زیـاد شـو، د پوښـتنو ادبي او ګرامـري محتـوا تـه پاملرنـه وشـوه او بالاخـره داسـې معیـاري پوښـتنې جـوړې شـوې، چـې لـه یـوه پلـوه ورسـره د کډونوالـو هغـه نیوکـې او فریـاد لـه منځـه ولاړ چـې د پوښـتنو لـه سـاحې څخـه یـې درلـود، لـه بلـه پلـوه د ځوانانـو ترمنـځ د رقابـت علاقـه لا پسـې پیـاوړې شـوه او دا بـاور یقینـي شـو، چـې ازمویـنه یـوه وېـره، مایوسـي او ماتـې نـه، بلکـې د دولسـو کلونـو زده کـړو یـو رښـتیني انځـور دی.

ازمویـنه پـه اصـل کـې د اسـتاذ او شـاګرد ترمنـځ یـوه داسـې رابطـه ده، چـې پـه تـرڅ کـې یـې دواړه لـوري د ټـاکل شـویو اهدافـو لپـاره پـه یـو مثبـت کشـمکش کـې وي، شـاګرد هڅـه کـوي، چـې هـدف تـه ځـان ورسـوي او اسـتاد هڅـه کـوي هـدف تـه رسـېدل یـو ځانګـړی ارزښـت ولـري، د هـدف لپـاره واقعـي زیـار وایسـتل شـي، تـر څـو پـه ترلاسـه کولـو سـره یـې رښـتونی احسـاس پـه ولولـو شـي او دغـه احسـاس هغـه وخـت لاپسـې خونـدور شـي، چـې کلـه هـدف تـه د رسـېدو لارې پاکې او معلومـې وي، لـه کنـدو کپـرو، ګډوډیـو چـل او فریـب څخـه نـه منـزه کـوي.

پـه کانکـور ازمویـنه کـې د نومـرو وروسـتی حـد هـم یـو ځانګـړی هـدف و، دغـه هـدف تـه د رسـېدو لپـاره کلونـه کلونـه مبـارزه وشـوه، ځوانانـو هڅـې وکـړې، زحمتونـه وکالـل شـول، شـپې او ورځـې خـواری وشـوې، تـر وروسـتیو لـوړو ښـاخونو لاسـونه ورپورتـه شـول، خـو وروسـتی څلـی بیـا هـم لـوړ وو او چـا نـه و لمـس کـړی. او نـن هغـه ورځ راغلـه، چـې زمـوږ د وطـن یـو ځـوان (راشـد) دغـه لـوړه ځوکـه هـم تـر خپلـې سـینې لانـدې راوسـتله او دا یـې ثابتـه کـړه، چـې د کانکـور ازمویـنه پـر یـوه معیـار برابـره ده، لارې پاکـې او منظمـې دي، چـل او فریـب پـه کـې نشـته، ازمویـنه د هغـه څـه حقیقـي انځـور دی کـوم څـه چـې مـوږ لوسـتي او ورتـه مـو مطالعـه کـړې.

راشـد (۳۶۰) نمـرې ترلاسـه کـړې، لـه یـوه لـوري یـې د کانکـور افتخـار پـه خپـل نـوم کـړ، خـو لـه بلـه پلـوه یـې د ازمویـنو عمومـي ادارې رونتیـا، سیسـتم، بـاور، مدیریـت، عدالـت او انصـاف هـم د هېـواد راتلونکـي نسـل تـه لاپسـې روښانه کړ.

ازدحام شهر کابل؛ چالشی که نیازمند توجه بیشتر است

مصطفی محمدی

شـهرکابل بـه عنـوان پایتخـت افغانسـتان، هـر روز میزبان هـزاران شهروندیسـت کـه بـرای کار، آمـوزش و انجـام امـور روزانـه در سـطح شـهر رفت‌وآمـد می‌کننـد. بـا افزایـش جمعیـت و تعـداد وسـایط نقلیـه، ازدحـام در جاده‌هـا و کمبـود وسـایط حمل‌ونقـل عمومـی بـه یکـی از مشـکلات مهـم شـهروندان تبدیـل شـده اسـت. ایـن وضعیـت نـه تنهـا رفت‌وآمـد را دشـوار سـاخته، بلکـه بـر زندگـی روزمـره مـردم نیـز تأثیـر گذاشـته اسـت.

بسـیاری از باشـندگان کابـل می‌گوینـد: در سـاعات آغـاز و پایـان روز، جاده‌هـای اصلـی شـهر بـا ترافیـک سـنگین روبـه‌رو می‌شـود. برخـی کارمنـدان، دانشـجویان و کارگـران نیـز از کمبـود موترهـای شـهری شـکایت دارنـد و گاهـی مجبـور می‌شـوند مـدت زیـادی در ایسـتگاه‌ها منتظـر بماننـد یـا بـا کرایـه بیشـتر از تاکسـی‌های شـخصی اسـتفاده کننـد.

بـه بـاور مـن، ازدحـام شـهرکابل تنهـا یـک مشـکل ترافیکـی نیسـت، بلکـه نتیجـه افزایـش جمعیـت، توسـعه شـهر و محـدود بـودن برخـی امکانـات شهریسـت کـه بـا برنامه‌ریـزی بهتـر و همـکاری مـردم و نهادهـای مسـئول، می‌تـوان ایـن مشـکل را تـا حـد زیـادی کاهـش داد.

عوامل و پیامدهای ازدحام

یکـی از مهمتریـن علت‌هـای ازدحـام در کابـل، افزایـش جمعیـت و شـمار وسـایط نقلیـه اسـت. در کنـار آن، کمبـود حمل‌ونقـل عمومـی، توقـف موترهـا در کنـار جاده‌هـا، کمبـود پارکینـگ و رعایـت نکـردن برخـی قوانیـن ترافیکـی نیـز باعـث کنـدی رفت‌وآمـد می‌شود.

ادامـه ایـن وضعیـت، پیامدهـای مختلفـی بـرای شـهروندان دارد. اتـلاف وقـت، افزایـش مصـرف سـوخت، آلودگـی هـوا و خسـتگی ناشـی از ترافیک، از مشـکلاتیسـت که بسـیاری از مردم هـر روز بـا آن روبـه‌رو هسـتند. وقتـی شـهروندان زمـان زیـادی را در راه‌بنـدان سـپری می‌کننـد، هـم هزینه‌هـای زندگـی افزایـش می‌یابـد و هـم آرامـش روانـی آنـان کاهـش پیـدا می‌کنـد.

در سـال‌های اخیـر، بـرای بهبـود وضعیـت ترافیـک و اجـرای برخـی پروژه‌هـای عمرانـی تلاش‌هایـی صـورت گرفتـه اسـت. ادامـه ایـن برنامه‌هـا، همـراه بـا توسـعه زیرسـاخت‌های شـهری، می‌توانـد در کاهـش ازدحـام نقـش مؤثـری داشـته باشـد.

راهکارهای کاهش ازدحام

کاهـش ازدحـام تنهـا وظیفـه نهادهـای مسـئول نیسـت، بلکـه همـکاری شـهروندان نیـز اهمیـت زیـادی دارد. رعایـت قوانیـن ترافیکـی، پـارک نکـردن وسـایط در محل‌هـای غیرمجـاز و همـکاری بـا مأموریـن ترافیـک، می‌توانـد بـه روانتـر شـدن رفت‌وآمـد کمـک کنـد.

از سـوی دیگـر، افزایـش تعـداد موترهـای شـهری، سـاخت پارکینگ‌هـای معیـاری، فعـال بـودن چراغ‌هـای ترافیکـی و ادامـه پروژه‌هـای سرک‌سـازی، از اقداماتیسـت کـه می‌توانـد بخشـی از مشـکلات موجـود را برطـرف سـازد. همچنیـن توجـه بـه فرهنـگ شهرنشـینی و رعایـت نظـم از سـوی همـه شـهروندان، در بهبـود وضعیـت نقـش مهمـی دارد.

در پایـان می‌تـوان گفـت کـه ازدحـام شـهرکابل یکـی از چالش‌هـای مهـم شهریسـت؛ امـا بـا برنامه‌ریـزی، توسـعه زیرسـاخت‌ها و همـکاری مـردم و مسـئولان، می‌تـوان آن را تـا انـدازه زیـادی مدیریـت کـرد. هـر گامـی کـه امـروز بـرای بهبـود وضعیـت ترافیـک و نظـم شـهری برداشـته شـود، زندگـی آسـانتر و آینـده بهتـر را بـرای شـهروندان کابـل بـه همـراه خواهـد داشـت.

نور تخصصي روغتون په تېرو درېيو مياشتو کې د سترګو ۲۳۴۵...

قرنیې، ګلوکوما، ټیټ لید، د ماشـومانو او پلاسټیکي جراحي پـه ګډون بېلابېلـې تخصصي څانګې فعالـې دي.» نومورې زیاته کـړه، چې نور د سـترګو ملي او تخصصـي روغتون دا مهـال د ۱۰۰ بسـترو ظرفیت لـري او هڅه کـوي، چې په راتلونکـې کې دغه ظرفیت نور هم لوړ کړي.

د ده په وینا: «د اسـلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسـته په روغتون کې یو شـمېر نوې څانګې فعالې شوې او د میلیونونو افغانیو په ارزښـت طبي وسایل اخیستل شـوي، چې له املـه یـې د سـترګو د ناروغیو نړۍ ۹۵ سـلنه درملنـه په همدې روغتون کې ترسـره کېږي.» ښـاغلي روان وویل: «د روغتون په ټولو اړونـدو برخو کې لابراتوارونه او پرمختللي وسـایل، کاهـش ازدحـام تنهـا وظیفـه نهادهـای مسـئول نیسـت، بلکـه همـکاری شـهروندان نیـز اهمیـت زیـادی دارد. رعایـت قوانیـن ترافیکـی، پـارک نکـردن وسـایط در محل‌هـای غیرمجـاز و همـکاری بـا مأموریـن ترافیـک، می‌توانـد بـه روانتـر شـدن رفت‌وآمـد کمـک کنـد.

از سـوی دیگـر، افزایـش تعـداد موترهـای شـهری، سـاخت پارکینگ‌هـای معیـاری، فعـال بـودن چراغ‌هـای ترافیکـی و ادامـه پروژه‌هـای سرک‌سـازی، از اقداماتیسـت کـه می‌توانـد بخشـی از مشـکلات موجـود را برطـرف سـازد. همچنیـن توجـه بـه فرهنـگ شهرنشـینی و رعایـت نظـم از سـوی همـه شـهروندان، در بهبـود وضعیـت نقـش مهمـی دارد.

در پایـان می‌تـوان گفـت کـه ازدحـام شـهرکابل یکـی از چالش‌هـای مهـم شهریسـت؛ امـا بـا برنامه‌ریـزی، توسـعه زیرسـاخت‌ها و همـکاری مـردم و مسـئولان، می‌تـوان آن را تـا انـدازه زیـادی مدیریـت کـرد. هـر گامـی کـه امـروز بـرای بهبـود وضعیـت ترافیـک و نظـم شـهری برداشـته شـود، زندگـی آسـانتر و آینـده بهتـر را بـرای شـهروندان کابـل بـه همـراه خواهـد داشـت.

راهکارهای کاهش ازدحام

کاهـش ازدحـام تنهـا وظیفـه نهادهـای مسـئول نیسـت، بلکـه همـکاری شـهروندان نیـز اهمیـت زیـادی دارد. رعایـت قوانیـن ترافیکـی، پـارک نکـردن وسـایط در محل‌هـای غیرمجـاز و همـکاری بـا مأموریـن ترافیـک، می‌توانـد بـه روانتـر شـدن رفت‌وآمـد کمـک کنـد.

از سـوی دیگـر، افزایـش تعـداد موترهـای شـهری، سـاخت پارکینگ‌هـای معیـاری، فعـال بـودن چراغ‌هـای ترافیکـی و ادامـه پروژه‌هـای سرک‌سـازی، از اقداماتیسـت کـه می‌توانـد بخشـی از مشـکلات موجـود را برطـرف سـازد. همچنیـن توجـه بـه فرهنـگ شهرنشـینی و رعایـت نظـم از سـوی همـه شـهروندان، در بهبـود وضعیـت نقـش مهمـی دارد.

در پایـان می‌تـوان گفـت کـه ازدحـام شـهرکابل یکـی از چالش‌هـای مهـم شهریسـت؛ امـا بـا برنامه‌ریـزی، توسـعه زیرسـاخت‌ها و همـکاری مـردم و مسـئولان، می‌تـوان آن را تـا انـدازه زیـادی مدیریـت کـرد. هـر گامـی کـه امـروز بـرای بهبـود وضعیـت ترافیـک و نظـم شـهری برداشـته شـود، زندگـی آسـانتر و آینـده بهتـر را بـرای شـهروندان کابـل بـه همـراه خواهـد داشـت.

کابل اوسـېدونکي محمد نبي وویل: «د اسـلامي امارت له مسـئولینو غواړي نور د سـترګو ملي او تخصصي روغتون ته ځانګـړې پاملرنـه وکړي، ځکـه دا د هېواد په کچـه یو مهم تخصصي روغتون دی.» د ده په وینا: «د ناروغانو شـمېر ډېر دی او اوسـنی بستر او تشکیل د اړتیاوو د پوره کولو لپاره بسنه نـه کوي؛ له همـدې املـه د نوې ودانۍ جوړول او د تشـکیل پراخول اړین دي.»

د کندهار ولایت یوه ناروغ، محمد اسـماعیل وویل: «په نور روغتون کې روغتیایي خدمات ډېر ښـه دي.» نومورې زیاته کړه، چې ډېـر خوښ دی، ځکه عملیات یې په خپل هېواد کې په بریالیتوب ترسره شـول. **سمیع الله مومند**

افغان اعلانات

اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از حکم هشتاد چهارم طرزالعمل تدارکات و مصوبه جلسه شماره ۱۰۱۱ مورخ ۱۴۰۵/۳/۲ کمیسیون محترم تدارکات ملی به اطلاع عموم رسانیده می‌شود ، اینکه شرکت امارتی ملی بس تهیه و تدارک مقدار ۱۰۲۵۲ لیتر موبلائل، ۱۰۰ کیلو گریس عادی و مقدار ۱۰۰۰لیتر آب انتی فریز خالص مورد ضرورت سال مالی ۱۴۰۵ خویش را تحت شماره داوطلبی (NOB/G1405/ 003) و آدرس دفتر مرکزی سرک ۸ تایمنی مرکز کابل ، کابل به قیمت مجموعی مبلغ (۲۴۹۰۵۰۰) دو میلیون و چهار صدو نود هزار و پنجصد افغانی عقد قرار داد نماید. اشخاص حقیقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمینه داشته باشند ، می توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی ۵ روز کاری طور کتبی توام با دلایل آن به شرکت امارتی ملی بس واقع زنده بانان ناحیه ۱۶ شهر کابل ارایه نمایند.این اطلاعیه به معنی عقد قرار داد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی ، قرار داد منعقد نخواهد شد.۳۳۲۳

***

اطلاعیه مزایده جایداد

قبلا انضمام نامه شماره (۲۰۸۴) مورخ ۱۴۴۷/۳/۲۵ ریاست تحقیقات جنایی اوراق نسبتی قضیه فریبکاری و خیانت در امانت به اتهام اسامی احسان الله فرزند عبدالرسول علیه نیک محمد فرزند گل محمد ولدیت غلام قادر توام با فیصله های قضایی متعدد منجمله فیصله قضایی شماره (۸۳) مورخ ۱۴۴۷/۲/۱۹ جز با ریاست محترم دیوان امنیت عامه محکمه ابتداییه زون اول مبنی بر پرداخت حقوق مثبوته و اصدار حکم ورزیده بود که بعد از یک سلسله اجرات شرعی و اصولی اسامی مصری خان فرزند مجلس خان ولدیت اجون خان حاضر شده است. که بر اساس کفالت بالمال ده بسوه زمین زراعتی مندرج قباله شرعی (۱۰۰/۵۷) مورخ ۱۳۸۶/۵/۱ مرتبه محکمه ده سبز کابل را با در بدل دین نیک محمد فرزند گل محمد واگذار نموده تا از طریق داوطلبی و مزاییده به فروش رسانیده شود. و ازقیمت به دست آمده دین داینین پرداخت شود.

بناء حویلی مندرج قباله شرعی (۱۰۰/۵۷) مورخ ۱۳۸۶/۵/۱ مرتبه محکمه ده سبز کابل واقع کوچه کمیسیون انتخابات قلعه ی قیام الدین متصل به سرک عمومی کابل جلال آباد، خانه شماره سوم را مطابق فیصله های قضایی متعدد منجمله فیصله قضایی شماره (۸۳) مورخ ۱۴۴۷/۲/۱۹ جز با ریاست محترم دیوان امنیت عامه محکمه ابتداییه زون اول که در برابر دین محکموم لهما اصدار یافته است.

افراد و اشخاص حقیقی و حکمی که مایل به خریداری جایداد متذکره باشند الی ۱۰ روز رسمی بعد از نشر این اعلان در مجلس داوطلبی در ناحیه دوازدهم ریاست حقوق ولایت کابل واقع چوک فواره آب، بعد از تقدیم استدعای رسمی اشتراک نمایند.۳۳۲۶

***

موضوع: اطلاعیه تصمیم اعطای قرارداد

بدینوسیله به تاسی از قانون عقود به اطلاع عموم رسانیده می شود. وزارت اطلاعات و فرهنگ در نظر دارد، قرارداد بیع مطلق مؤجل تهیه و خریداری موبایل های هوشمند مورد نیاز ریاست دسترسی به اطلاعات برای سال ۱۴۰۵ با کود نمبر MOIC/G-9/RSB/1405 را به شرکت محترم خدمات لوژستیکی المهدی دایکندی دارای جواز شماره (D-69342) را به قیمت مجموعی مبلغ/۱.۱۵۸.۰۰۰- یک میلیون و یکصدو پنجاه و هشت هزار افغانی اعطا نمایند.

اشخاص حقیقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمینه داشته باشند، می‌توانند اعتراض خویش را از تاریخ نشر اعلان الی ۵ روز تقویمی طور کتبی توام با دلایل آن را به معینیت کرخندوی، مالی و اداری، آمریت تدارکات واقع چهار راهی ملک اصغر روبروی وزارت امور خارجه، وزارت اطلاعات وفرهنگ ارائه نمایید.

این اطلاعیه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکمیل میعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهند شد.

***

اعلان دعوت به داوطلبی

موضوع:- پروژه تهیه و تدارک (۷۶) قلم روغنیات ، فلتر باب و بطری های مورد ضرورت سال مالی ۱۴۰۵ هـ ش

وزارت ارشاد حج و اوقاف از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (پروژه تهیه و تدارک (۷۶) قلم روغنیات ، فلتر باب و بطری های مورد ضرورت سال مالی ۱۴۰۵ هـ ش) اشتراک نموده و آفر های سر بسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات عامه امارت اسلامی افغانستان سر از تاریخ نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند.

حصول شرطنامه از ادرس ذیل :

ریاست تدارکات وزارت ارشاد، حج و اوقاف، (شهرنو، کوچه اتصالات، چهار راهی فیض محمد خان) در اوقات رسمی، ذریعه سی دی، فلش به دست آورده زمان آفرگشایی مطابق به مندرجات صفحه دستورالعمل به داوطلبان شرطنامه میباشد. آفرها دیر رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی‌باشد.

نوت : اگر کدام تفاوت میان متن شرطنامه و اعلان دعوت به داوطلبی موجود باشد، متن شرطنامه مدار اعتبار است.

***

اعلان دعوت به داوطلبی

موضوع:- پروژه تهیه و تدارک (۱۰۸۷) قلم پرزه جات وسایط و جنراتور ها سال مالی ۱۴۰۵ هـ ش.

وزارت ارشاد حج و اوقاف از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت می نماید تا در پروسه داوطلبی (پروژه تهیه و تدارک (۱۰۸۷) قلم پرزه جات وسایط و جنراتور ها سال مالی ۱۴۰۵ هـ ش) اشتراک نموده و آفر های سر بسته خویش را مطابق شرایط شرطنامه، طبق قانون و طرزالعمل تدارکات عامه امارت اسلامی افغانستان سر از تاریخ نشر اعلان الی (۲۱) روز تقویمی ارائه نمایند.

حصول شرطنامه از ادرس ذیل :

ریاست تدارکات وزارت ارشاد، حج و اوقاف، (شهرنو، کوچه اتصالات، چهار راهی فیض محمد خان) در اوقات رسمی، ذریعه سی دی، فلش به دست آورده زمان آفرگشایی مطابق به مندرجات صفحه دستورالعمل به داوطلبان شرطنامه میباشد. آفرها دیر رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی‌باشد.

نوت : اگر کدام تفاوت میان متن شرطنامه و اعلان دعوت به داوطلبی موجود باشد، متن شرطنامه مدار اعتبار است.

***

اطلاعیه مفقودی

یک قطعه جواز تجارتی شرکت سمیرمعابر لمتید نمبر ۱۲۵۸۷ به اسم عبدالصمد فرزند عبدالسمیع مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد. ۳۲۹۸

***

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله عظیمی فرزند عبدالبصیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم صدر الدین عباسی فرزند عباس مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شاه گل بنت عبدالحکیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نایب فرزند ستار مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عین الله خرمی فرزند سید علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شکریه عباسی بنت عوض مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد بیگزاد فرزند عبدالصمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رحیم الله نظری فرزند امام نظر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم طاهره اخلاقی بنت قربان علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم رفیع الله فرزند حاجی مرسلین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نیاز محمد تره کی فرزند خیال محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بی بی شفیقه سادات بنت گل سعید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد ایوب فرزند محمد نعیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالله حسینی فرزند محمد حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد عباس حسینی فرزند حسین داد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.

اطلاعیه مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم زین الله فرزند محمد ظریف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می‌باشد.۶۹۹۷

د شاپور ځدرانو د مړینې په هکله...

ته وړاندې کوم. الله تعالی دې ښاغلي ځدرانو ته فردوس جنت نصیب کړي او کورنۍ ته دې یې جمیل صبر په برخه کړي. روح یې ښاد او یاد یې تلپاتي. د یو بل خبر له مخې؛ د افغانستان کرکټ بورډ د یوې خبرپانې په څېرولو سره د افغان لوبډلې د پخواني لوبغاړي شاهپور ځدرانو د مړینې په اړه ژوره خواشیني ښودلې او د نومورې مړینه یې د افغانستان د کرکټ لپاره ستره ضایعه بللې ده. شاهپور ځدرانو په ۱۹۸۷زېږدیز کال لوکر کې زېږېدلی و، خپله لومړی نړیواله یو ورځنی (ODI) سیالي یې په ۲۰۰۹ زېږدیز کال کې د هالنډ لوبډلې پر وړاندې ترسره او وروستی یو ورځنی لوبه یې په ۲۰۱۹ زېږدیز کال د ایرلنډ پر وړاندې ترسره کړې. نومورې د افغانستان د کرکټ لوبډلې لپاره په ټولیز ډول ۴۳ نړیوالې یو ورځنۍ (ODI) او ۳۲ شل‌اوریزې نړیوالې (T۲۰) سیالی ترسره کړې او په دې موده کې یې د هېواد کرکټ ته ارزښتناک خدمتونه وکړل. باید وویل شي، چې شاهپور ځدرانو د افغان کرکټ د بنسټ ایښودونکو لوبغاړو له ډلې ځخه یوه نمونه وه، چې په خپلو هلو ځلو یې په هېواد کې د کرکټ لوبې په وده او پرمختګ کې مهم رول لوبولی دی.

د صنعت وده؛ د اقتصادي ځان‌بسیاینې...

هېوادونو د نندارتونونو د جوړېدو پلانونه او له نړیوالو سوداګریزو شریکانو سره د اړیکو پراختیا هم د دې ښکارندویي کوي، چې افغانستان غواړي خپل تولیدات د سیمې او نړۍ بازارونو ته ورسوي او د صادراتو له لارې د هېواد اقتصادي وضعیت لا پیاوړی کړي.

بې له شکه، د صنعت او معادنو د نندارتونونو دوام به د کورنیو تولیداتو د کیفیت لوړولو، د پانګوالو د باور زیاتولو، د سوداګریزو اړیکو د پراخولو او د نوې ټکنالوژۍ د انتقال لپاره مهم فرصتونه رامنځته کړي. هره نوې فابریکه، هر نوی تولیدي شرکت او هر نوی سوداګریز ټرون د اقتصادي ثبات، د کارموندنې د پراختیا او د ملي ځان‌بسیاینې پر لور یو بل ګام دی.

نن افغانستان د اقتصادي بدلون په یوه مهم پړاو کې قرار لري. که د صنعت د ودې لپاره روانې برنامې، د کورنیو تولیداتو ملاتړ او د پانګونې د جلب سیاستونه په همدې عزم او تدبیر سره دوام وموميي، هېواد به نه یوازې د خپلو دېرو اړتیاوو په تولید کې پر ځان‌بسیا شي، بلکې د سیمې په اقتصادي تعاملاتو کې به هم اغېزمن او فعال رول ولوبوي. د صنعت پیاوړتیا د افغانستان د اقتصادي خپلواکې، دوامدارې ودې او روښانه راتلونکي لپاره له ټولو ډاډمنه لاره ده.

په ۳۹ ښوونځیو کې د رشته‌بندۍ د آزمایښتي...

آزمایښتي بڼه پیل کړې ده، د ننګونو پر حل یې کار کېږي، تر څو یو ښه پراو پیل شي.

د یاد ریاست په وینا، دا مهال دغه طرحه د هېواد په کچه په ۳۹ ښوونځیو کې د آزمایښتي پروګرام په توګه روانه ده، چې پنځه ښوونځي په کابل او د هېواد د هر ولایت یو ـ یو ښوونځی پکې شامل دي. د پوهنې وزارت د معلوماتو له مخې، له دغو ۳۹ ښوونځیو څخه ۵ په کابل او یو یو په ټولو ولایتونو کې دي او آزمایښتي پراو به درې کاله دوام وکړي. د لومړۍ دورې له فراغت وروسته به زده‌کوونکي د تخصصي کانکور له لارې لوړو زده‌کړو ته معرفي کېږي او د طرحې پایلې به په هر اړخیز ډول وارزول شي.

د نشراتو ریاست شریعت ورځپاڼې ته ویلي: «له ارزونې وروسته به رشته‌بندي په تدریجي ډول د هېواد ټولو ښوونځیو ته وغځول شي، ځو زده‌کوونکي د خپلو وړتیاوو، استعدادونو او لېوالتیاوو له مخې اړوندې ځانګې وټاکي. د رشته‌بندۍ په پلي کېدو سره به د لسمو، یوولسمو او دولسمو ټولګیو نصاب هم د هرې ځانګې له اړتیاوو سره سم تخصصي او تنظیم شي. مسئولینو دا هم ویلي، چې په دغه پراو سره به نصاب کې هم تغیرات راشي او په همدې موخه یې سړکال ۲۲ بستونه آزادې سیالۍ ته ورکړل، تر څو د هرې برخې د نصاب له محتوا او تخصصي اړتیاوو سره برابره ترتیب شي.

د ښوونې او روزنې چارو یو شمېر پوهان د دې طرحې هرکلی کوي. د ښوونې او روزنې کارپوه، نعمت الله سرحدي وایي: «که رشته‌بندي د اړتیاوو او معیاري نصاب پر بنسټ پلي شي، زده‌کوونکي به له خپلو وړتیاوو سره سم زده‌کړې وکړي، د پوهنتونونو لپاره به ښه چمتو شي او د هېواد د کاري بازار اړتیاوو ته به هم اغېزناک ځواب ووایي.» د چارواکو په وینا، د دې طرحې موخه دا ده چې زده‌کوونکي د لوړو زده‌کړو او راتلونکو مسلکي اړتیاوو لپاره په ښه ډول چمتو او علمي وړتیاوې یې لا پیاوړې شي. **تاج محمد بهار**

باغ‌وحش کابل در سه ماه گذشتهبرای ۴۹۰۰ تن...

همه‌ساله میزبان هزاران تن از علاقه‌مندان، به‌ویژه شاگردان مکاتب و محصلین پوهنتون‌هاست.» وی افزود: در جریان این بازدیدها، مدیریت تعلیم و تربیهٔ باغ‌وحش کابل برنامه‌های آموزشی ویژه‌ای را برای بازدیدکنندگان برگزار کرده و معلومات لازم را در مورد شیوهٔ زندگی حیوانات، اهمیت حفاظت از حیات‌وحش، گونه‌های مختلف پرندگان و خزندگان، موزیم زندهٔ ماهیان، شیوهٔ مدیریت باغ‌وحش و فرهنگ شهری در اختیار آنان قرار داده است.

رئیس باغ‌وحش کابل همچنان اظهار داشت که در پایان این برنامه‌های آموزشی، شماری از کتاب‌های مرتبط با فرهنگ شهری به‌عنوان تحفه میان بازدیدکنندگان توزیع شده است تا آنان در کنار کسب تجربهٔ عملی، از منابع آموزشی مفید نیز بهره‌مند شوند.

باغ‌وحش کابل با برگزاری چنین برنامه‌هایی تلاش می‌کند، افزون بر فراهم‌سازی محیط مناسب برای تفریح، در آموزش نسل جوان، ترویج فرهنگ حفاظت از محیط زیست و افزایش آگاهی شهروندان نسبت به ارزش‌های حیات‌وحش نیز نقش مؤثر ایفا کند.

د عالیقدر امیرالمؤمنین ...

۲۱ نیمګړې او ۲۱ پلان شوې پروژې او د برېښنا د توزیع ۳۴ پلان شوې پروژې په پام کې نیول شوې دي. د دغو پروژو د چارو په بشپړېدو سره به د انرژۍ په سکتور کې د پام وړ پراختیا او پرمختګ رامنځته او پر وارداتي برېښنا به اتکاء راکمه شي. د دغه پلان تطبیق به د هېواد په اقتصادي بیارغونه او د مالي خپلواکۍ په پیاوړتیا کې د انرژۍ سکتور رول لا مؤثر کړي، ځو د ځان بسیاینې او د انرژۍ د خوندیتوب پر بنسټ ټاکل شوي اهداف ترلاسه شي.

سرمایه‌گذاری بیش از ۳۱۵...

خود را مطابق قانون معادن، طرزالعمل‌های نافذ و تعهدات مندرج در قرارداد، به‌گونه شفاف و مسئولانه اجرا کند. گفتنیست که شرکت قراردادی، افزون بر پرداخت حق رویالتی، متعهد شده که پنج میلیون افغانی را در بخش خدمات اجتماعی سرمایه‌گذاری کرده و در زمینه حفاظت از محیط زیست نیز به تمامی تعهدات خود عمل کند.

هرات کې د هنري اثارو ...

په مناسبت جوړ شوی دی. د نوموړي په وینا: دغه هنري سیالی په تېرو دوو ورځو کې د ۴۰ هنرمندانو په ګډون ترسره شوې او په پایله کې یې شپږو تنو غوره مقامونه خپل کړل. ده وویل: په دغه نندارتون کې د هرات د هنرمندانو له لوري جوړ شوي ۱۰۰ هنري اثار، چې خطاطي او نقاشي پکې شاملې دي، د هنر مینه‌والو ته د نندارې لپاره اینبودل شوي دي. د غلام محمد میمنه کي د هنري ښوونځي آمر محمد هاشم شارق وویل چې د دغې سیالی موخه د هنري استعدادونو پېژندنه ښودل شوې ده. ده زیاته کړې، چې اړوند ریاست هڅه کوي د هنرمندانو د ودې، پیاوړتیا او لا ښې معرفي کېدو لپاره لا زیات فرصتونه برابر کړي.

چهارراهی استقلال بدخشان ...

اداره‌های مربوطه، گفت که ارائه خدمات بهتر به شهروندان از اولویت‌های کاری آنان بوده و تلاش‌ها برای بهبود خدمات شهری همچنان ادامه خواهد داشت. وی افزود که طراحی جدید چهارراهی استقلال، علاوه بر افزایش زیبایی شهری، سهولت‌های لازم را برای رفت‌وآمد وسایط نقلیه و شهروندان نیز فراهم ساخته است. در همین حال، باشندگان شهر فیض‌آباد از ساخت این چهارراهی ابراز خرسندی کرده و خواستار اجرای پروژه‌های مشابه بیشتر در بخش توسعه و زیباسازی شهری شدند.

سرمایه‌گذاران ایرانی...

هرات گفتگو نموده اند. در این دیدار اعضای هیأت کمپنی کنسرسیوم ضمن معرفی برنامه‌ها و ظرفیت‌های تخنیکی و فنی شرکت‌های مربوطه، آمادگی خود را برای همکاری در بخش معادن و سرمایه‌گذاری در بخش صنعت در ولایت هرات، بالاخص در بخش‌های اکتشاف، استخراج، پروسس و ایجاد زیربناهای صنعتی اعلام کردند. در همین حال والی هرات ضمن استقبال از حضور و آمادگی تجار ایرانی برای سرمایه‌گذاری در افغانستان، آمادگی اداره محلی هرات را برای فراهم‌سازی زمینه‌های همکاری و حمایت از طرح‌های مؤثر در راستای رشد اقتصادی، ایجاد کار برای مردم و استفاده بهتر از منابع طبیعی اعلام کرد.

د غزني - پکتیکا نښلوونکې...

دا مهال یې عملي چارې په چټکی سره روانې دي.

د یاد وزارت په وینا، دغه سړک د غزني ښار د ترانسپورټ له ځلورلارې څخه پیلېږي او د اندرو ولسوالی د بند سردې سیمې تر لارې د پکتیکا ولایت تر پولو غځېږي. مسئولین وایي: دا لویه لاره د غزني او پکتیکا ولایتونه سره نښلوي او د خلکو د تګ راتګ، د سوداګریزو توکو او کرنیزو محصولاتو د لېږد رالېږد او د سیمه‌ییزو اقتصادي فعالیتونو په پراختیا کې مهم رول لري.

د ټولګټو چارو وزارت ټینګار کړی، چې د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د کوچنیو او لویو پراختیایي پروژو په پلي کولو سره د خوندې تګ راتګ، اقتصادي ودې او د ترانسپورتي زېربناوو د پیاوړتیا لپاره خپلو هڅو ته دوام ورکوي.

تلاش جدید کابل و دهلی...

همچنین، هیأت وزارت زراعت در جریان این سفر از شماری از مراکز تحقیقاتی، مؤسسات و پروژه‌های زراعتی هند بازدید خواهد کرد تا از تجارب موفق و فناوری‌های نوین این کشور در بخش‌های زراعت، آبیاری و مالداری بهره‌مند شود.

افغانستان په کنډو برخو کې...

د صنعت او سوداګرۍ وزیر وویل: دغه وزارت ژمن دی چې افغانستان پر یوه صنعتي هېواد بدل او د صنعتي ودې لپاره عملي کامونه پورته کړي. ده نندارتونونه د کورنۍ صنعت د ودې، د تولیداتو د معرفي کولو او د بازار موندنې لپاره اغېزمن وبلل او ویې ویل: په روسیه کې د افغاني تولیداتو د نندارتون جوړولو هڅې هم روانې دي. عزیزي ټینګار وکړ، چې د کورنیو تولیداتو ملاتړ به تر هغه دوام ولري، ځو دغه تولیدات له نړیوالو محصولاتو سره د سیالۍ وړتیا پیدا کړي.

توزیع زرنج و تجهیزات...

وسایط نقلیه زرنج و برای ۱۱ زن بیوه نیز وسایل و تجهیزات درآمدزاء توزیع شد تا زمینه تأمین نیازهای روزانه و کسب درآمد پایدار برای آنان فراهم شود. مفتی عبیدالله حقانی، رئیس امور شهداء و معلولین ولایت کنر، هنگام توزیع این کمک‌ها، آن را گام مهم در راستای توانمندسازی اقتصادی خانواده‌های یتیم عنوان کرد و از همکاری‌های بنیاد خیریه نصیر در حمایت از خانواده‌های نیازمند قدردانی نمود. به گفته مسئولان، این کمک‌ها با هدف بهبود وضعیت اقتصادی خانواده‌های مستحق و فراهم‌سازی زمینه خودکفایی آنان صورت گرفته است.

کندز کې د ختکیو او ...

په موخه یې اغېزمن پروګرامونه هم اخیستل شوي دي. نومورې زیاته کړې، چې امام صاحب، چهاردره او خان اباد هغه ولسوالۍ دي، چې سړکال په کې د ختکیو او هندوانو کرنه ډېره شوې ده. په ورته مهال د یاد ولایت بزګرانو له حکومته غوښتي، چې له دوی سره د کیمیاوي سرو او درملو برخه کې مرستې زیاتې کړي. د افغانستان مېوې په ځانګړې توګه د کندز ختکې چې د مزې او ښه خوند له امله ښه بازار لري له ټولو مشهورې یې شین مغزي، اله پوچاق او شکر پاره دي.

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly , Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com ویب سایت:

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: محمدیوسف حیدري / ۰۷۹۴۹۸۹۶۹۸
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶ / ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Wednesdy 08 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 1101

د صنعت او سوداگری وزیر:

افغانستان په ګڼو برخو کې ځان بسیاینې ته رسېدلی

د صنعت او سوداګرۍ وزیر نورالدین عزیزي ویلي: افغانستان په ټپلاټپلو سکټورونو کې د ځان‌بسیاینې پر لور مهم ګامونه پورته کړي او د تولیدي توکو شمېر د اسلامي امارت له راتګ وروسته له ۵۰۰ ډولونو څخه نړۍ دوه زره ډولونو ته لوړ شوی دی. عزیزي د صنعت او کانونو د پنځم نړیوال نندارتون د پای غونډې پر مهال وویل: د صنعتکارانو پراخ ګډون په دغه نندارتون کې د هېواد د صنعتي ودې لپاره مهم پرمختګ دی. نومورې زیاته کړه: د صنعت د پیاوړتیا او د پانګونې د هڅونې لپاره د صنعتي برخو تعرفې یوې سلنې ته راکمې شوې دي او تېر کال شاوخوا ۵۷۶ کارخونو ته ځمکې ورکړل شوې او له ټپلاټپلو لارو یې ملاتړ شوی دی. ۳مخ

سرمایه‌گذاری بیش از ۳۱۵ میلیون افغانی در معدن نمک غوریان هرات

ملا هدایت‌الله بدری وزیر معادن و پترولیم قرارداد استخراج بلاک اول معدن نمک ساحه نمک‌سار ولسوالی غوریان ولایت هرات را با یک شرکت داخلی امضاء کرد. وزارت معادن و پترولیم اعلام کرده که معدن یادشده با سرمایه‌گذاری ۳۱۵ میلیون و ۵۹۴ هزار افغانی در مساحت بیش از ۱۰ کیلومتر مربع قرار داده شده است. به گفته این وزارت، با تطبیق این پروژه، زمینه اشتغال مستقیم و غیرمستقیم برای شماری از شهروندان فراهم خواهد شد. ملا هدایت‌الله بدری در مراسمی به همین مناسبت گفته که قرارداد استخراج این بلاک با نرخ ۱۵۰۰ افغانی رویالتی برای هر تُن و برای مدت ۱۵ سال منعقد شده است. وی همچنان تأکید کرده که شرکت قراردادی مکلف است تمامی فعالیت‌های ... ص۳

د غزني - پکتیکا نښلوونکي لارې د بیارغونې چارې دوام لري

د ټولګټو چارو وزارت ویلي: د غزني-ښارنې لویې لارې د ۴۵ کیلومتره برخې د ترمیم پروژه د څه باندې ۱۴۵ میلیونو افغانیو په ارزښت خصوصي سکټور ته په قرارداد ورکړل شوې او ... ۳مخ

تلاش جدید کابل و دهلی برگسترش همکاری های زراعتی ومالداری

مولوی عطاءالله عمری، وزیر زراعت، آبیاری و مالداری در رأس هیأتی به منظور انجام یک سفر رسمی عازم هند شد. وزارت زراعت، آبیاری و مالداری اعلام کرده که هدف از این سفر، گسترش همکاری‌های دوجانبه در بخش‌های زراعت، آبیاری، مالداری، صادرات و واردات محصولات زراعتی، تبادل تجارب و بهره‌گیری از دست‌آوردها و فناوری‌های نوین هند در این بخش‌هاست. بر بنیاد خبرنامه این وزارت، قرار است مولوی عطاءالله عمری در جریان این سفر با مقام‌های وزارت زراعت و رفاه دهقانان هند، شماری از مقام‌های بلندپایه حکومتی و مسئولان بخش خصوصی آن کشور دیدار و گفتگو کند. در این دیدارها، دو طرف پیرامون توسعه همکاری‌های دوجانبه، تقویت روابط زراعتی، تبادل تجارب، معرفی فناوری‌های نوین زراعتی، توسعه بخش مالداری و گسترش همکاری‌ها در زمینه صادرات و واردات محصولات زراعتی گفتگو خواهند کرد. ص۳

د شاپور ځدرانِ د مړینې په هکله د اسلامي امارت د مسئولینو تسلیت

د اسلامي امارت مرستیال ویاند ملا حمدالله فطرت د افغانستان د کرکټ لوبډلې د پخواني تېز توپ اچوونکي شاهپور ځدرانِ پر مړینې خواشیني څرګنده کړي، ښاغلي فطرت په خپله اېکس پاڼه لیکلي، چې د هېواد د کرکټ ملي لوبډلې د پخواني او نامتو توپ اچوونکي، شاهپور ځدرانِ د مړینې خبر خپه او خواشیني کړو. انا لله و انا الیه راجعون

ښاغلي فطرت ویلي: نومورې د افغانستان د کرکټ په تاریخ او د ورزش په ډګر کې د هېواد په ځلېدو کې بې‌ساري او نه هېرېدونکي خدمتونه کړي، چې مړینه یې د هېواد د ورزش د کهول لپاره یوه لویه ضایعه ده. د خپلې خواخوږۍ او تسلیت مراتب د اروابنباد محترمې کورنۍ، د کرکټ بورډ اداري او د نومورې ټولو مینه والو... ۳مخ

باغ‌وحش کابل در سه ماه گذشته برای ۴۹۰۰ تن برنامهٔ سیرعلمی برگزار کرده است

در سه ماه اخیر، برای ۴۹۰۰ تن از اطفال کودکستان‌ها، شاگردان مدارس و مکاتب و محصلین پوهنتون‌های مختلف کشور، زمینهٔ بازدید رسمی و سیر علمی از باغ‌وحش کابل به‌منظور آموزش عملی، آشنایی با حیات‌وحش و ارتقای آگاهی محیط‌زیستی فراهم شده است. عزیزگل «ثاقب» رئیس باغ‌وحش کابل، در این مورد گفت: «باغ‌وحش کابل افزون بر این‌که یک مکان تفریحی و دیدنی است، به‌عنوان یکی از مراکز علمی، آموزشی و تحقیقاتی کشور نیز نقش مهمی در ارتقای آگاهی عمومی ایفا می‌کند و... ص۳

آغاز کار باقیمانده ساختمان لیلیه پوهنتون پکتیا



شیخ الحدیث مولوی صفت‌الله حقانی رئیس پوهنتون پکتیا، از همکاری و حمایت رهبری وزارت تحصیلات عالی قدردانی کرد و از شرکت قراردادی خواست که کار این پروژه را در مدت تعیین شده، مطابق معیارهای تخنیکی و با کیفیت بلند تکمیل کنند. وی افزود که با تکمیل این پروژه، سهولت‌های بیشتر و لازم برای بود و باش محصلان فراهم خواهد شد و همچنان محیط مناسب تحصیلات عالی نیز در پوهنتون متذکره مهیا می شود.

کار باقیماندهٔ ساختمان لیلیه پوهنتون پکتیا، با هزینه بیش‌از ۲۰ میلیون افغانی تکمیل خواهد شد. کار باقیمانده ساختمان شش طبقه‌یی لیلیه پوهنتون پکتیا، با هزینه ۲۰میلیون‌و۴۰۰هزار افغانی از بودجه انکشافی وزارت تحصیلات عالی آغاز شده‌است.

در مراسم آغاز کار این ساختمان،

حماس غزه کې خپل حکومت منحل کړی او واک متخصصینو ته سپاري



حماس اسلامي غورځنګ اعلان کړی، چې په غزه کې یې خپل شاوخوا لس کلن حکومت منحل کړی او چمتو دی، چې د اداري واک د فلسطیني متخصصانو یوې خپلواکې ډلې ته وسپاري. رویترز خپل راپور کې د حماس له قوله ویلي: دا پرېکړه د غزې د راتلونکې په اړه د امریکا د وړاندیز شوې طرحې په چوکاټ کې رامنځته شوې ده. حماس همدا راز ټینګار کړی، چې د امریکا په منځګړیتوب له اسرائیلي رژیم سره د اوربند له هوکړې وروسته به د خپلو تر کنترول لاندې سیمو امنیتي چارې هماغسې پر مخ وړي.

در حملات روسیه بر اوکراین ۳۲ تن کشته شدند

در پی حمله‌های گسترده موشکی و پهپادی روسیه بر شهر کییف و چندین منطقه دیگر اوکراین ۳۲ تن کشته و ده‌ها تن دیگر زخمی شدند. رسانه‌های بین‌المللی گزارش داده که بیشترین تلفات این حمله‌ها در شهر کیف، پایتخت اوکراین، ثبت شده است. بر اساس اعلام مقام‌های اوکراین ۱۸ تن در شهر کیف و ۱۰ تن دیگر در مناطق اطراف آن جان باخته اند. همچنان چهار تن دیگر در حملات جداگانه در مناطق زاپوریژیا و سومی کشته شدند. نیروی هوایی اوکراین، اعلام کرده که روسیه در این حمله از موشک‌های بالستیک، موشک‌های کروز و صدها پهپاد استفاده کرده است. جنگ روسیه و اوکراین از فبروری ۲۰۲۲ تا اکنون ادامه دارد و حمله‌های هوایی دو طرف در ماه‌های اخیر شدت گرفته است.

دمشق کې د چاودنې له امله لسګونو تنو ته مرګ ژوبله اوښتې

الجزیرې خبر ورکړی، چې د سوریې په پلازمېنه دمشق کې د چاودنې له امله ۹ تنه وژل شوي او ۲۲ نور ټپیان شوي دي. د الجزیرې د راپور له مخې، چاودنه د دمشق د الحجاز سیمې په یوه کافه کې، د عدلیې مانۍ ته نږدې رامنځته شوې او د پېښې ټپیان د سختو ټپونو د درملنې لپاره روغتون ته لېږدول شوي دي. الجزیرې د سوریې د روغتیایي او امنیتي چارواکو له قوله ویلي: لومړني معلومات ښیي، چې چاودنه د کافې دننه د ځای پر ځای شویو چاودېدونکو توکو له امله شوې ده. له پېښې وروسته امنیتي ځواکونو سیمه کلابنده کړې او د برید د ځرنګوالي او د عاملینو د پېژندلو لپاره یې پلتنې پیل کړې دي.

چین د تودوخې ضد نوې ټکنالوژي معرفي کړه

چین د سختې ګرمۍ د کمولو لپاره د «روف تاپ رېن» یا «بام باران» په نامه نوې او ارزانه ټکنالوژي معرفي کړې ده. دغه سیستم د ودانیو پر بامونو د لوړ فشار سپرې کوونکو له لارې د اوبو واړه څاڅکي خپروي چې د تبخیر له لارې د ودانۍ شاوخوا تودوخه تر ۸ درجې سانتیګراد پورې راکموي. دا ټکنالوژي د ایرکنډیشنرونو په پرتله د انرژۍ د کم مصرف له امله د ګڼ‌مېشتو ښارونو لپاره د سړولو یوه اغېزمنه بدیله لاره بلل کېږي. د سیستم څاڅکي ځمکې ته له رسېدو مخکې په هوا کې تبخیرېږي، چې له امله یې چاپېریال یخ پاتې کېږي.

بلوچستان کې پر امنیتي پوستې برید؛
نهه پولیس وژل شوي او پنځه نور یې ټپلي

د پاکستاني رسنیو د راپورونو له مخې، د بلوچستان ایالت د زیارت ولسوالي په منګي سیمه کې پر یوې امنیتي پوستې د وسله‌والو په برید کې نهه پولیس وژل شوي او پنځه نور یې ټپلي دي. د زیارت ولسوالي د پولیسو مشر عبدالقدوس ویلي: وسله‌والو پر پوستې له برید وروسته له امنیتي ځواکونو سره نښته کړې، چې په پایله کې یې نهه پولیس وژل شوي دي. د ده په وینا، بریدګرو له برید وروسته پنځه نور پولیس هم له ځان سره بیولي او د وژل شویو پولیسو جسدونه د زیارت ولسوالي روغتون ته لېږدول شوي دي. بله خوا، د پاکستان د کورنیو چارو وزیر محسن نقوي دغه برید غندلی او د پېښې د عاملانو پر ضد یې د جدي اقداماتو غوښتنه کړې ده.